د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

# پرمختیا


اوونیزه

۱۱۱ مه گڼه • پنجشنبه • د لیندۍ ۲۸مه • ۱۳۹۸



٤

## د روان ۲۰۱۹ کال په نومبر میاشت کې د ۱۰ زره او ۳۰۰ کورنیو لپاره د څښاک اوبه برابرې شوې



۹

### په کابل ولایت کې د څه باندې ۱۷ میلیونه افغانیو په ارزښت ددریو کاریزونو پروژې بشپړې شوې



۵

### د کابل په سروبي ولسوالۍ کې د ۳۲ میلیونه افغانیو په ارزښت ۶۰ متره پل جوړ شو

# په بلخ او کندز کې د دریو لومړنیو ښوونځیو جوړولو کار پیل شو

۲۸/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروگرام د اقرا پروژې تر سیوري لاندې د کندز ولایت په دشت ارچي او د بلخ ولایت په دهدادي ولسوالۍ کې د دریو لومړنیو ښوونځیو جوړولو کار پیل شو. هر ښوونځی به ٦ ټولګي د ځښاک د اوبو څاه او تشنابونه ولري. ښوونځي د دهدادي ولسوالۍ په باغ پشت علیا او د دشت ارچي ولسوالۍ په حاجي موسي او اب شور کلیو کې جوړېږي.

ددې پروژو په ترڅ کې نږدې ٦ زره کاري ورځې رامنځ ته شوي او تر بشپړتیا وروسته به یې نږدې ۵۰۰ زدکونکو ته د ښوونې او روزنې وړ چاپېریال رامنځ ته شي.







# په ننګرهار کې له ۳۱ اړو کورنيو سره د څه باندې ۱۳٦ زره افغانيو په ارزښت د خوراکي توکيو مرسته وشوه

۲۳/ ليندۍ/ ۱۳۹۸

له ۳۱ اړو کورنيو سره د څه باندې ۱۳٦ زره افغانيو په ارزښت د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د غله جاتو د بانک له لوري د ننګرهار ولايت د کامې ولسوالۍ د ورڅه فقير او سده شير علي خان کليو د پراختيايي شوراګانو لخوا د خوراکي توکيو مرسته وشوه. دغه مرستې د ولسي تړون د ټولنيز ګډون لپاره د مالي وجهې پروګرام (SIG) له خوا چې د خلکو ونډه هم په کې وه، کليوالو ته وړاندې شوې چې اوړه، وريجې، غوړي، بوره، چاي او لوبيا پکې شامل وو.





# په باميانو کې د ۷.۸ ميليونه افغانيو په ارزښت ۲۰ متره پل جوړ شو

۲۳/ ليندۍ/ ۱۳۹۸

د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت د سيميزو پروګرامونو د همغږۍ دفتر له خوا د باميانو د ورس ولسوالۍ په بغندك الوم سيمه کې د ۷.۸ ميليونه افغانيو په ارزښت ۲۰ متره اوسپنيز کانکريټي پل جوړ او کاري بشپړ شو.

له دې پله نيغ په نيغه او نامستقيم ډول ۱۷٤٦۰ کسان ګټه پورته کوي.



# د روان ۲۰۱۹ کال په نومبر میاشت کې د ۱۰ زره او ۳۰۰ کورنیو لپاره د څښاک اوبه برابرې شوې

۲۳ لیندۍ ۱۳۹۸

د روان ۲۰۱۹ کال په نومبر میاشت کې د هېواد په ۱۳ ولایتونو لکه بادغیس، بغلان، بامیان، دایکنډي، غور، هلمند، کندوز، ننګرهار، نورستان، پروان، تخار، وردګو او زابل ولایتونو کې د څښلو د اوبو ۳۷ پروژې بشپړې او د خلکو ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

دیادو شویو پروژو په جوړېدو اوګټې اخیستو سره، په پورته ذکر شویو ولایتونو کې د څه باندې ۱۰ زره او ۳۰۰ کورنیو لپاره د څښلو پاکې اوبه برابرې شو ې.

په دغو پروژې کې:

- د بامیانو ولایت په یکاولنګ ولسوالۍ او مرکز، د پروان ولایت په سرخ پارسا ولسوالۍ، د دایکنډي ولایت په شهرستان ولسوالۍ، د ننګرهار ولایت په رودات، کوټ، او نازیانو ولسوالیو، د بادغیس ولایت په قادس او ابکمري ولسوالیو، د غور ولایت په فیروزکوه ، د کندوز ولایت په روستاق اباد ولسوالۍ، د زابل ولایت په مرکز قلات ، او د بغلان ولایت په ده صلاح ولسوالۍ کې د اوبو رسولو د ۲۱ شبکو جوړول؛
- د هلمند ولایت په نهرسراج، ناوه او نادعلي ولسوالیو کې د اتو ژورو څاه ګانو جوړول او
- د تخار ولایت په روستاق اباد ولسوالۍ کې د ۱۰ ژورو څاه ګانو او د وردګو ولایت په سیداباد ولسوالۍ کې د ١٤ نورو کیندل شامل وو.

په دغو پروژو باندې ټولټال ۹۳مېلیونه، ۵۹۰ زره او ٤٤۹ افغانۍ لګښت راغي چې ٤٤مېلیونه، ۲۹۳زره او ۱۲۳ افغانۍ یې د مالیې وزارت له لوري او پاتې ٤۹مېلیونه، ۲۹۷ زره او ۳۲٦ افغانۍ د یونیسف له لوري ورکړل شوې.

په دې سربېره، د حفظ الصحې او نظافت د پاکوالي د تعلیماتو څانګې ددې میاشتې په لړ کې په ننګرهار، بادغیس، غور، دایکنډي، پکتیا او هلمند ولایتونو کې ۱۱۱ کلي په خلاصه فضا کې له رفع حاجت نه پاک تصدیق کړي او ۲۳۵ نور یې پاک تایید کړي دي. په دغو ولایتونو کې د خایي خلکو لخوا ۲۳۱ مبرزونه جوړ او ۸٤٦ نور دودیز مبرزونه اصلاح شوي دي.

د یادونې وړ ده چې دغه پروژې د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ الصحې د ملي پروګرام له لوري تطبیق شوې دي.



# د کابل په سروبي ولسوالۍ کې د ۳۲ میلیونه افغانیو په ارزښت ۶۰ متره پل جوړ شو

۲۸/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کیلوالي لار جوړونې د ملي پروګرام له لوري د سروبي ولسوالۍ د دوپې پل ګټې اخیستنې وسپارل شودغه پل د ۶۰ مترو په اوږدوالي د څه باندې ۳۲ میلیونه افغانیو په ارزښت جوړ شو دا پل شپاړس کلي (حسین خیل دوپې، لکن خیل دوپې ،جان غونډۍ، دره حصارعلیا، دره حصار سفلي ،سلام یان، غونډۍ کلي، حسین خیل، کنج کلي، ملایان، بابکرخیل، کوتګي، انځري، جګدلک، ا وسروبي) نښلولي دي او د یادو ولسوالیو د اوسیدونکو تګ راتګ یې اسانه کړي دي همدا راز د ناروغانو په لیږد او مارکیټونو ته د کرنیزو توکیو د لیږد لپاره یې ټرانسپورټي اسانتیاوې رامنځته کړې دي، په ټوله کې به ۸۵۰۰ وګړي له دې پله ګټه پورته کوي.

د کابل ولایت د کلیو بیا رغونې او پراختیا رییس انجینیر اول خان احمدزي وویل چې اوسمهال په سروبي ولسوالۍ کې د ۳۵ پرمختیایي پروژو کارونه روان دي چې استنادي دیوالونه او د اوبه خور کانالونه په کې شامل دي.



# په ننګرهار کې د څه باندې ٤ میلونه افغانیو په لګښت د ۹۰۰ متره سړک جوړولو کار پیل شو

۱۳۹۸/لیندۍ/۲۵

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام دخارنې، ساتنې او ودانۍ لپاره د پراختیایي نغدي وجهې پروګرام (MCCG) له لوري د څه باندې ٤ میلونه افغانیو په لګښت د ۹۰۰ مترو په اوږدوالي د یو سړک او د هغه د غاړې د ویالو د جوړولو کار د ننګرهارولایت د چپرهار ولسوالۍ اړوند د اتفاق فامیلي د پراختیایي شورا له خوا پیل شو. د نوموړې پروژې د کار په بهیر کې به ۱۷۱ تنو ماهرو او غیرو ماهر کارګروته د کار زمینه برابره شي او د دغې پروژې د کار له بشپړیدو وروسته به ۸۵۷ کورنۍ ترینه ګټه واخلي.

# په بلخ ولایت کې د څه باندې ۲.۷ ملیونه افغانیو په ارزښت د څښاک د اوبو د یوې شبکې د جوړولو کار روان دی

۲٤/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې ۲.۷ ملیونه افغانیو په ارزښت د څښاک د پاکو اوبو د یوې شبکې د جوړولو کار د بلخ ولایت د بلخ ولسوالۍ د شهاب ترکمنیه کلي د پراختیایي شورا لخوا روان دي. د څښاک د پاکو اوبو دغه شبکه چې ۱۰۰۰ متره اوږدوالي، د ۲۳ مکعبه متره اوبو یوه زیرمه، ۸ نلکې او د یوه ژور څاه لرونکې ده د جوړولو کاریې ۸۰ سلنه پر مخ تللي دي. د یادونې وړ ده چې د دغې پروژې د بشپړیدو وروسته به د کلي ۲٦٥ کورنۍ د څښاک پاکو اوبوته لاسرسي پیدا کړي.





# په کابل کې د ۱۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۱۸ کیلومتره کانال جوړولو کار بشپړ شو

۲۴/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د سیمیزو پروګرامونو د همغږۍ دفتر له خوا د کابل ولایت په موسهي او بګرامیو ولسوالیو د کمري کلي د ۱۸ کیلو متره کانال کار د ۱۸ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړ او د بګرامیو د ولسوال او د کابل د کلیو بیا رغونې او پراختیا د رییس له خوا ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. ۱۸ کیلومتره کانال، پنځه پلچکونه، ۷ پیاده رو پلچکونه، یو سوپر پسیج، ۱۳ افتیکه، ۳ سکیپه او په ټوله کې ۲۷ ډوله بیلابیل ودانیز ساختمانونه د دې پروژې برخې وې چې په ترڅ کې یې ۳۶۰ کاري ورځې رامنځ ته شوې وې. ددې پروژې په بشپړتیا سره ۴۰۰۰ جریبه کرنیزه مځکه د اوبه خور وړ وګرځیده چې نیغ په نیغه ترې ۷۰۰ کورنۍ ګټه اخلي.



# په لغمان کې د ۳۳٤ زره افغانیو په ارزښت د درو څاګانو د کېندلو چارې پیل شوې

۱۳۹۸/لیندۍ/۲٤

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت له لوري د لغمان په مرکز کې د ۳۳٤ زره افغانیو په لګښت د درو څاګانو د کېندلو چارې پیل شوې. د دې څاګانو چارې به په درو میاشتو کې بشپړې شي او ۹۰ کورنۍ به ترې ګټه اخلي.

# په کابل کې د څه باندې د ۱.٤ ملیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یو کانال جوړولو کار بشپړ شو

۲٤/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې ۱.٤ ملیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یوکانال د جوړولو کار د کابل ولایت دګلدرې ولسوالۍ اړوند د قلعه نیاز پراختیایي شورا لخوا بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. د دغه کانال مجموعي اوږدوالي ۳۳۰ متره دي چې د جوړولو په بهیر کې یې ۱۹ ماهرو او غیرو ماهرو کارګروته د ۲ میاشتو لپاره کاري ورځې رامنځته شوېدي. د نوموړي کانال په جوړیدو سره به ۱۹۶ جریبه ځمکه خړوبه شي او ۳٤ کورنۍ به ترینه ګټه پورته کړي.





# په کابل ولایت کې د څه باندې ۱۷ میلیونه افغانیو په ارزښت ددریو کاریزونو پروژې بشپړې شوې

۲۷ / لیندۍ / ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري د څه باندې ۱۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د کابل ولایت په چهار اسیاب ولسوالۍ کې دوو کاریزونو پروژې بشپړې شوې یو کاریز د یادې ولسوالۍ په قلعه خواجه کلي کې د ۱۳۲۷ مترو په اوږدوالي او د یو بل کاریز څاګانې، د اوبو لګولو زیرمتون او د ۱۷۹۰ مترو په اوږدوالي د اوبو لګولو کانال په پاخه او اساسي ډول جوړ شوي دي. او دریم کاریز پروژه په کلکان ولسوالۍ کې بشپړه شوه چې ۵۰ څاګانې او ۱۵۶۰ متره کانال لري.

د یادو کاریزونو د جوړولو په کاري بهیر کې ۱۰۶۸۲ کاري ورځې رامنځته شوي، چې څه باندې ۵ زره کسان به له دې پروژو ګټه اخلي او د سېمه زیاته کرنیزه ځمکه به خړوبوي.



## په لوګر او وردګو ولایتونو کې د ٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د دوو کاریزونو د پروژو کار به ژر بشپړ شي

۲۷ / لیندۍ / ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري د څه باندې ٦ میلیونه افغانیو په ارزښت په لوګر او وردګو ولایتونو کې د اوبو لګولو د کاریزونو د پروژو کارونه به ژر بشپړ شي. د لوګر د محمداغې ولسوالۍ په خانانو کلي کې د کاریز څاه ګانې او ۱۸۰۸ متره کانال په پاخه ډول جوړیږي. د دویم کاریز پروژه د وردګو ولایت د نرخ ولسوالۍ په ابدره کلي کې جوړیږي چې څاه ګانې او ۲۴۳ متره کانال لري. د دې پروژو په کاري بهیر کې ٤۲۷۸ کاري ورځې رامنځ ته کیږي، چې تر بشپړتیا وروسته به ۹۸۰ وګړي تري ګټه اخلي او زیاته کرنیزه ځمکه به د اوبه کولو ترمنظم پوښښ لاندې راشي.

## په زابل ولایت کې د ۱.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د کرنیزو اوبو د ۳ زیرمو او یو کانال جوړولو کار روان دی

۲٦/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې ۱.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د کرنیزو اوبو د ۳ زیرمو او یو کانال د جوړولو کار د زابل ولایت د ترنک اوجلدک ولسوالۍ اړوند د حاجي احمد چینې د پراختیایي شورا له خوا روان دی. د دغې پروژې کانال ۸۰ متره اوږدوالی لري چې د کار په بهیر کې به یې ماهرو او غیرو ماهرو کاریګرو ته ۱٤۳۰ کاري ورځې رامنځته شوي. د یادونې وړ ده چې د دغه کانال د بشپړیدو څخه وروسته به د کلي ۱۳۵ کورنۍ ګټه واخلي او ۱۰۰۰ جریبه کرنیزه ځمکه به خړوبه کړي.





# د زابل ولایت په شینکۍ ولسوالۍ کې د اوبو لګولو د بند پروژې کار ۹۰ سلنه بشپړ شوی

۲٦ / لیندۍ / ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري د نږدې ٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د زابل ولایت د شینکۍ ولسوالي په آخندزاده خیلو کلي کې د اوبو لګولو د بند د پروژې کار ۹۰ سلنه بشپړ شوي.

د یادې پروژې د تطبیق پر مهال ۳۱۵۵ کاري ورځې رامنځته کیږي او په بشپړیدو به یې د سیمې ۲۸۰۰ کسان له دې پروژې ګټه اخلي او ۷۵ جریبه کرنیزه ځمکه به د اوبه کولو ترمنظم پوښښ لاندې راشي.



# د پکتیا مرکز اړوند په کوچي خیلو سېمه کې د دوو میلیونه افغانیو په ارزښت د استنادي دیوال پروژه بشپړه شوه

۲٦ / لیندۍ / ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري د نږدې ۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د پکتیا ولایت مرکز اړوند په کوچي خیلو سېمه کې د ۱٦٦ مترو په اوږدوالي د استنادي دیوال د جوړولو پروژه بشپړه شوه.

د یادې پروژې د تطبیق پر مهال ۲٦۲٦ کاري ورځې رامنځته شوي او د سیمې ۱٤۷۰ کسه به له دې پروژې ګټه اخلي.